اکادمسین سلیمان لایق

# د لنډيو ماخذونو ته
# يوه کتنه

[۱]

زه غواړم تر دي عنوان لاندې داسې يوه پوښتنه طرح کړم چې آيا هغه ماخذونه کوم چې د لنډيو څېړونکې، په څېړنه کې د استشهاد او ساريو د غوره کولو او نورو څېړنيزو مقاصدو لپاره مراجعه ورته کوي، د علمي اعتماد وړ دي که څنگه ؟ د دي پوښتنې طرح ځکه ضروري ده چې د ټولو څېړنو سموالی د ماخذونو په صحت پورې تړلی دی . که د ماخذونو توثيق نه وي شوی د څېړنو پر نتيجو باندې باور نشي کېدای.

د علمي قواعدو پر بنا د عوامو آثار د علمي مقصدونو لپاره هماغسې چې تلفظ کېږي، په هماغه ډول بايد وليکل شي او په هماغه بڼه يې توپيره بايد چاپ شي ځکه که موږ د هغوی يوه کلمه هم بدله کړو، په هغه صورت کې به د اثر په ټولو ابعادو کې تصرف کولو ته وهڅېږو، او ددې معنا به داوي چې کولای شو د عوامو په آثارو کې نوی مضامين ننه باسو او دا د علمي اصولو او موازينو خلاف لاس وهنه ده، تر

دې ورهغه خوا عاميانه اثر هله د تدقيق او چاپ لپاره د باور وړ بلل کېږي چې منجمله د هغه د محل د ليکلو د وخت، د اثر دراوي او حتی د هغه د ثبتوونکې په باره کې معلومات شته وي. د دې معيارونو سره سم د ځينو مؤلفانو ليکل شوی او سفاهي يادداښتونه د انتقادي اصولو پر بنياد د علم لپاره اعتبار نلري، له داسې نسخو څخه استفاده خامخا ناوړې غلطی او تېروتنې رامنځ ته کوي.

که څه هم په افغانستان کې د عاميانه نظمونو په تېره د لنډيو علمي څېړنه لا تر اوسه په خپل جامع او واقعي مفهوم نه ده پيل شوی، خو هغه څه چې پښتنو فلکلورستانو د لنډيو د څېړنې په ډول روان کړي دي په ثبتو شويو ماخذونو باندې ډېره لګوي کوم چې د کابل په پښتو ټولنه، د افغانستان د علومو په اکاډيمي او د پښور او کوټې په پښتو اکاډيميو کې چاپ شوي دي. دا ماخذونه په هغو ټولګو پورې محدودېږي چې لومړنی يې د چاپ د قدامت په اعتبار «پښتني سندرې» دي کومې چې د ۱۳۳۴ په لمريز کال د محمد دين ژواک تر اهتمام لاندې د پښتو ټولنې له لورې چاپ شوې دي. دوهمه ټولګه « پښتو لنډۍ» په کال ۱۳۶۴ کې د افغانستان د علومو اکاډيمي د ژبو او ادبياتو د مرکز له لورې خپره شوه، دريمه ټولګه « د روهي سندرې» نومېږي چې د ميرمن ( سلمی شاهين ) په همت په دوو ټوکو کې په کال ۱۹۸۴ او ۱۹۹۴ م کې تدوين شوې او د پښور د پوهنتون د پښتو اکاډيمي له لوري خپرې شوې دي، پنځمه او شپږمه ټولګه ړومبی د «سيلاب» په نوم او وروستی په دريو ټوکو کې د « ګل

ټپی» په نوم، د گل محمد کاکړ راټولې کړې لنډۍ دي چې د کوټې د اکاډیمي له لورې چاپ شوې دي. سمدلاسه همدا یادې شوې ټولگې چې د پښتو د علمي مراجعو ټاپه پر تندي لري، د لنډیو د څېړونکو د لاس وندونو او ماخذونو په توگه تر استفادې لاندې راغلي دي خو دا خبره لا سپینه نه ده چې نوموړي ماخذونه د څېړنو په مقصد د اسنادو او استناد له اړخه څومره اعتبار او رسوخ لرلای شي.

په داسې مهال چې لنډۍ د کلیو او کیږدیو له لمنو څخه د بې احساسو او شهرت غوښتونکو کسانو له لوري لوټ کېږي او د دوی د آثارو په نامه چاپ ته سپارل کېږي د ذکر شویو ټولگو چاپېدل، یو گټور کار دی دا ځکه چې دغه چاپ شوې نڼۍ څه نا څه تالانگرو له چپاو څخه ژغورل شوي دي.

د لنډیو په راټولولو، ثبتولو او زیرمه کولو کې یوازنی مقصد دا نه دی چې هغه دې په مردف ډول راغونډې او په کومه توگه کې چاپ ته ورسول شي هو د یوې ملي تابلو مقام ورته حاصل شي، بلکې د هغوی د راټولولو او خوندي کولو تر ټولو لوړ ومبنی مقصد دا دی چې لنډۍ د علمي مقاصدو لپاره د استفادې وړ وگرزي داسې چې د ادیبانو، تاریخ، ټولنپېژندنې، خلک پېژندنې او نورو ټولنیزو پوهنو په څېړنه کې د څېړونکو له کار سره مرسته وکړي.

د افغانستان د علومو اکاډیمي د لنډیو د یوې گټورې زیرمې د ترتیبولو په نیت د شپېتمو لمریزو هجري کلونو په لومړنی نیمایي کې د ژبې او ادبیاتو د حرفوي کارکوونکو یوه تکړه

دله[۱] د لنډیو د یوې علمأ تنظیم شوې ټولګې د چمتو کولو او خپرولو پروژې ته و گمارله، لیکن په هیواد کې د تحمیلي جګړې، بدامنۍ او د اکاډیمي د بودیجوي لنډوالي له کبله هغه هیله سر ته ونه رسېدله او ګمارل شویو عالمانو د یادشویو املونو تر اجبار لاندې د «پښتو لنډۍ» یوه بله ناقصه ټولګه برابره او په ۱۳۶۴ هجري شمسي کال چاپ ته ورسوله.

پوښتنه منځ ته راتځي چې د علمي مراجعو له لورې په موجوده ټولګو کې تر ټولو عمده علمي نیمګړتیاوې کومې دي؟ دا یو جلا بحث دی او کېدای شي دلته په برسېرن ډول د نوموړو نیمګړتیاوو ځینې مواردو ته اشاره وشي او هغه دا دی په ټولګو کې د خلکو تر منځ د شته لنډیو ستره برخه نه ده ثبت شوې، د دې خبرې معنا داده چې په هغوی کې د زیرمه شویو لنډیو مجموعه، نسبت د لنډیو بشپړ ټول ته چې په پښتني خاوره کې شته دیؤ داسې ښکاري لکه یو لښتی چې له سین څخه راجلا شوی وي لا تر اوسه د لرې او برې پښتونخوا په کلیو او کېږدیو کې لسهاوو زره لنډۍ نا ثبت شوې پاتې دي کومې چې هېڅ ارشیف او زیرمې ته نه دي رسېدلې او له دې سره دا هم زیاتېدای شي چې هغه ناقصه طریقه کومه چې د لنډیو ټولوني ته غوره شوې ده، په غالب ګمان د دې موجب به شوې وي چې ځني نا سره او مشخ شویو لنډیو ټولګو ته لار پیدا کړې وي او دا عیب د پېښور او کوځې په ټولګو کې زیات اټکل کېږي. بله دا چې د نوموړو ټولګو مجموع چې د راټولو شویو لنډیو زیرمه جوړوي د منل شوې نړیوالې طریقې خلاف د «الف با» د تورو په اساس ډلبندۍ شوې او په

همدې اکتفا شوې ده او لنډۍ د مضمون او منځ پانګې، لهجې، ژبې او جغرافیایي ځانګړنو په اساس نشي معلافي کولای کوم چې د لنډیو او ورته فلکلورونو د منل شوې ډلبندۍ او فهرست کولو خامخایي شرط دی.

په ټولګو کې تش د «الف با یي» سر حرفونو په بنیاد، د لنډیو ډلبندي یو نیمګړی کار او د قاموسي ډلبندۍ، یوه ساده پیروي ده چې د مضموني ډلبندۍ سره کومه چې د فلکلوري جوړښتي ځانګړنو له څېړلو سره مرسته کولای شي، سر نه خوري. د لنډیو قاموسي ډوله ډلبندي، د هغوی د راویانو د پېژندګلوئ او یادو شویو جهاتو له ذکر څخه پرته د ثبت له نړۍ والې طریقې سره سر نه خوري او د څېړونکو اړتیا ته ځواب نشي ویلای.

په دې بحث کې اساسي مقصد دا دی چې د فلکلور د سیمې راټولونکو او زیرمه کوونکو ته دلنډیو د زیرمه کولو، خوندي کولو او چاپولو په باره کې مشخص، رانه او سم معلومات وړاندې شي.

د فلکلورونو نا سمه او غیر فني ټولونه یو کم ارزښته کار دی چې د وخت او مالي وجوهو په ضایع کولو نه ارزي. له بده مرغه موږ د شونتیاوو او تجربې د نه لرلو له کبله د فلکلورونو د خوندي کولو او ساتنې په کار کې پاتې راغلي یو. د لنډیو موجوده ټولګې که هغه علمي ټولنو خپرې کړې او که د فرهنګ د خپراوي ځانګړو مینیانو، د څېړونکو دا غوښتنه نه پوره کوي چې د لنډیو داسې ټولګې (مجموعې) دې چاپ ته ورسول شي چې د هغوی فلکلوري اصالت او



پیغام و ساتي.

پښتو فلکلورونه خو له لومړي سر څخه هم سم، بشپړ او په علمي ډول نه وو مرتب شوي، خو د اته ویشت کلنې کورنۍ جګړې په موده کې د هغوی په ټولونه او خپرونه کې ځینې داسې ناعلمي او زیان رسوونکې بدعتونه هم رامنځ ته شول چې د نوی نسل فلکلور ټولوونکو ته یې نوې ستونځې راپیدا کړې دي. په دې کې ځینې مسانو تر خپل ناته لاندې د غلا شویو لنډیو ټولګې خپرې کړې دي او په دې ډول یې د لنډیو فلکلوري اعتبار ته چې د خلکو د ډله ایزې قریحې د امانت په ډول د نسلونو په توالي او تداوم کې تر او سني مهال پورې رارسېدلې دي، ستر زیان رسولی دی.

له غلو او مسخ کوونکو څخه د لنډیو د ژغورنې، ساتنې او توثیق ګتوره او اغیزمنه لاره دا ده چې د هغوی د راټولولو، فهرست کولو او زیرمه کولو لپاره د فلکلورونو د خوندي کولو نړیواله طریقه و کارول شي او د هغې په موجب ټولې چاپ شوې او ناچاپ شوې لنډۍ له نوي سره د همدې طریقې مطابق راټولې، ترتیب او زیرمه شي.

په پرمخ تللیو هیوادو کې د فلکلورونو ډېرې منظمې او شتمنې زیرمې رامنځ ته شوېدي. په اریکې، روسیې او د اروپا د ټولنې په هیوادو کې د علمي مقصدونو لپاره د فلکلورونو د ټولولو او زیرمه کولو مرحله لا ډېره پخوا بشپړه شوې او فلکلورونه د علومو د څېړونکو استفادې ته چمتو شوي دي.

زموږ په سیمه کې تاجکستان دغه نړیواله تجربه د شوروي عالمانو په مرسته تطبیق کړې او پخه کړې ده.

د پښتو د فلکلورونو د راټولولو، او ځانګړو کارتونو ته د هغوی د رسولو او پر علمي پایو باندې د یوې ډاډمنې فلکلوري زېرمې د تنظیم او هستونې لپاره، د تاجیکانو د تجربې خپلول او کارول تر ټولو لنډه، وړیا او ګټوره لاره ده.

د تاجیکي عامیانه څلوریځو د راټولولو، فهرست کولو او په ځانګړو کارتونو کې د هغوی د زیرمه کولو د نظم او ترتیب تجربه خورا ګټوره او تطبیقي ده. زما په نظر موږ کولای شو د لنډیو په راټولولو، ترتیبولو او خوندي کولو کې د تاجیکي څلوریځو د زېرمې د نمونې په اساس، یوه علمأ تنظیم شوې زېرمه رامنځ ته کړو.

اوس د پښتو فلکلورستانو په وړاندې دا دنده پرته ده چې د لنډیو د ناقصو ټولګو پر ځای د لنډیو تر ټولو بنې او بشپړې ټولګې د خپرونکو او عامو لوستونکو لاس ته ورسوي. لنډۍ باید لکه څنګه چې په ټولنه کې شته دي یعني هماغسې چې عوام یې تلفظ کوي، ثبت شي، د لنډیو ټولګې د علمي خپرنو لپاره د ماخذونو په توګه همغه مهال د اعتماد وړ ګرزي چې د ثبت او لیکلو ځای او وخت یې معلوم وي، د هغوی د راوي او حتی د ثبتوونکې په باره کې یې ډاډمن معلومات راټول شوي وي، د دې معلوماتو بغیر د لنډیو لیکل شوې او چاپي نسخې د علم او څېړنې د ډاډ وړ نه دي.

په ۱۹۷۷ م کال د شوروي تاجیکستان د ژبې او ادبیاتو د «رودکي» انستیتیوت د راټولو شویو څلوریځو د زېرمې له منځه د «رباعیهاي خلق تاجیک» په نامه د ۳۹۰ عامیانه څلوریځو یوه غوره رساله چاپ کړه. د دغې رسالې په پیلامه

کې راغلي دي: «د خلقي آثارو د راز راز بڼو راټولول او د هغوی د سم متن تړاکنه، د دغو آثارو د راټولوونکو اساسي دنده ده، فلکلورپېژندونکې د مسالې په دې اړخ پوره پوهېږي مګر د دوی له منځه هغه کسان چې د دې دندې سرته رسول آسان کار ګڼي، تېروتلي دي ځکه د غوره نسخو د جمع کېدو لپاره زيات کلونه په کار دي تر څو سيمه په سيمې وپلټل شي او عاميانه آثار په ټولګو کې راټول شي».

د شرق سرخ مجلې ليکلي دي: «څرګنده ده چې د خلکو تر منځ يوه څلوريځه (او هر فلکلوريک شعر ـ لايق) بېلا بېلې بڼې لري چې د هغوی له منځه يوه يا دوه يې سمې او نورې يې ناسمې دي. دغه څلوريځه د راوي د ويلو په مهال او يا د څلوريځې د نقلوونکي له لوري د ثبت په مهال، په ناسمه توګه ثبتېږي، نو که چېرې ثبتوونکې د دې څلوريځې کومه بله نسخه و نه لټوي او پيدايې نکړي، ناسمه رباعي هماغسې ناسمه پاتې کېږي»(۲)

د آثارو راټولول لا د کار پيل دی، ځکه دا د خامو موادو د راغونډولو مرحله ده چې وروسته د هغوی مرتبول او استفادې ته چمتو کول د زياتې انرژي او وخت صرفولو ته اړتيا لري.

د تاذيکستان د علومو اکايمي د «رودکي» د ژبې او ادبياتو د استيتيوت د فلکلورستانو د زيار په نتيجه کې يوه داسې ستمنه زېرمه رامنځ ته شوه چې د مرکزي آسيا د ټولو تاجيکانو د فلکلوري هستونو نمونې يې راټولې او خوندي کړې. د دې زېرمې په بنياد د تاجيکو خلکو د هستونو د پوره

علمي خپراوي رامنځ ته شو، د فلکلور څانگې د زېرمې د ترتیبولو او خپراوي ته تر چمتو کولو وروسته، د هغوی د کلیاتو په خپرولو لاس پورې کړ او د تاجیکي فلکلور د شل ټکيز کلیات د چاپولو ذمه واري یې په غاړه واخیسته، د دې کار د سرته رسولو لپاره تر هر څه وړاندې اړینه وه هغه یو سل او پنځوس زره متنونه کوم چې په زېرمه تون کې خوندي شوي وو، له هغو ځانگړو مدرکونو او سندونو سره چې د کلیات د خپرولو له مقصدونو او اصولو سره سر خوري، غوره شي.

پرفیسور رجب امانوف د رودکي د انستیتیوت د فلکلوري څېړنو مشر د «رباعیات خلقی تاجیک» د تاذیکو خلکو څلوریځې، پر رساله باندې یوه خورا گټوره علمي مقدمه لیکلې ده او په هغې کې یې د څلوریځو د راغونډولو، خوندي کولو او څېړنیزو مقاصدو ته د هغوی د چمتو کولو بېلا بېل مراحل څرگند کړي دي. تاجیکي رباعي چې د افغانستان د دري پاربیتي سکه خور ده، که څه هم د بڼې له پلوه له لنډۍ سره زیات تباین لري خو د منځ پانگې له اړخه لنډۍ ته ډېره نیږدې ده، دغه دواړه د هندوایراني فرهنگ د کورنۍ لوراني دي او له هغه منځه په ایراني ټبر پورې تړلې دي که مور وغواړو پښتو لنډۍ له دري یا تاجیکي فلکلوري غاړو غړ.ونو یا سندرو سره پرتله کړو د نوموړو ژبو له پاربیتي سره پرتله کېږ.ي لا غیر ځکه خو د لنډیو د راټولولو او خوندي کولو په مورد کې د تاجیکانو د «خلقي رباعیاتو» تجربه تر بلې هرې تجربې د تطبیق وړ او علمي ده.



SPINTA

لکه چې مخکې اشاره وشوه تاذیکانو د شوروي فلکلورستانو په مرسته د فلکلورونو د زېرمه کولو په باره کې له نړیوالې تجربې سره ځان بلد کړ او په دې وپوهېدل چې باید زېرمې او په هغوی پورې اړوند اطلاعات، داسې ترتیب شي چې بېلابېلو او مختلفو مقصدونو لپاره له هغوی څخه د گټې پورته کول امکان پیدا کړي. د همدې هدف له مخې د تاجیکانو د فلکلور ټوله زېرمه، د راټولو شویو متنونو په اساس په جلا جلا ماخذونو (ځانگړو زېرمه ایزو برخو) و وېشل شوه لمه په لاس دلیکل شویو آثارو برخه، د حافظانو او قصه ویونکو د محفوظاتو برخه او د عکاسي او فلم شویو آثارو برخه.

په لاس لیکل شوې برخه بیا په خپل وار د صفحو د ترتیب له مخې په پنځلس برخو وېشل شوې ده، داسې چې هره برخه یې لس زره مخونه رانیسي یعنی له ۱ څخه تر ۹۹۹۹ پورې د هر فلکلوري اثر پر هر واحد که هغه څلوریځه وي، بیت وي، افسانه وي یا لطیفه، متل، کیسی او نور، داسې معلومات لیکل کېږي چې لاندینی خبرتیاوي بسیا کوي.

- د برخې شمېره
- د هغه مخ شمېره چې اثر پکې درج شوی دی
- د اثر د ثبت ځای او وخت
- د چا له خولې ثبت شو، د هغه او د پلار نوم
- د راوي عمر څومره و
- کسب او د معلوماتو درجه یې څه وه
- د ثبتوونکې پېژندگلوي

پورتنۍ خبر تیاوې څېړنکو ته د اثر دراوي او ثبتوونکې په باره کې بشپړ معلومات ورکوي او هغه د فلکلوري اثر په سموالې ډاډمن کوي.

د نوموړو معلوماتو راټولونه د فلکلوري کلیاتو له تدوین سره مخامخ او بې واسطې تړاو لري. تش د فلکلورونو راټولول او د هغوی د ټولګو خپرول د عالمانو او څېړنکو ډاډ د آثارو په سموالي نه بسیا کوي

د فلکلورونو د کلیاتو د علمي زېرمو د رامنځ ته کولو ګټه دا ده چې تش د ځانګړي اثر متن او یا د هغه کومه ځانګړې نسخه د خلکو د عامیانه هستونو کومه عمومي یا ځانګړې مساله نشي حل کولای. ځکه چې ځانګړی متن تش دومره ویلای شي چې نوموړې اثر په یو ځای، یوه وخت کې، د یو چا له لورې هست شوی دی لیکن دا نشي ویلای چې آیا دغه اثر نورو ته معلوم و؟ یو ځانګړی متن دې پوښتنو ته ځواب نشي ورکولای یعنی په عامیانه ادب پورې د دغه اثر د تړاو په هکله او په دې هکله چې آیا دغه اثر په بېلا بېلو وختونو او بېلا بېلو ځایونو کېد خلکو تر منځ باب و که نه، او په دې هکله چې آیا کوم جنس او کومې طبقي ته منسوب دی، ځواب نلري. دا په داسې حال کې چې یاد شوي اړخونه په پرګنیزه توګه هست شوي او دا خورا اهمیت لري خو هغه فلکلوري زېرمه چې په علمي توګه راغونډه شوې او ترتیب شوې وي دې پښتنو ته څرګند او بې ابهامه ځواب ورکولای شي .

د ذکر شویو معلوماتو په اساس د لنډیو هغه ټولګی چې

تر دې دمه د پښتو ټولنې او د افغانستان د علومو اکاديمي او يا د پېښور او کوټې د اکاديميو له خوا خپرې شوې دي، اکاديميکه ځانګړنه نه لري، ځکه چې هغوی د هيڅ علمي مخزن او د لنډيو د علمأ تنظيم شويو زېرمو په ډول نه دي خوندي شوې او د اسناد د نه لرلو له کبله استهاد نشي پرې کېدای. له بده مرغه لا تر اوسه پورې چې زه دغه کرښې ليکم د افغانستان هيځ علمي ټولنې د فلکلورونو علمي راټولونې ته نيت نه دی کړی. اوس په دې برخه کې د يوی ډاډمنې زېرمې تشه په شدت احساس کېږي. د دې تشې په مورد کې به يوه خپله تجربه بيان کړم. دوه کاله وړاندې ما په لنډيو کې د اسطوره يي مخلوقاتو د «فوسيلونو» په باره کې مواد راټولول او په دې کې مې داسې يوې لنډۍ ته ضرورت پيدا شو چې د «ديب» کلمه پکې ذکر شوې وي او که کم تر کمه په يوه ماخذ باندې ايتناد ولريږ نيږدې دوه هونۍ مې ټولې خپرې شوې ټولګې چې له ما سره شته وي پسې واړولې او په زرها وو لنډۍ مې ولوستې خو مطلوبه لنډۍ مې پيدا نکړه او يو ځل بيا د موجوده ټولګو په تشه او نارسايي باوري شوم او دا ځکه چې ما ډېر کلونه پخوا د لنډيو د يادداستولو د يو شوقمن په توګه داسې لنډۍ (البته ندرةٔ) ثبت کړې وې چې په هغو کې د ديب، ښاپېرۍ، پېري، روې، د بيابان غول، نارينه ازمای، شيشکې او نورو اسطوره يي هويتونو ذکر شوی و.

د فلکلوري زېرمو مخزن (يادشوی نړيوال سيستم) تر هر څه وړاندې د عاميانه هستونو او په هغې کې د اسطوره يي او له منځه تلليو باورونو د پاته شونو له ساتلو سره چې په

فلکلورونو کې زموږ تر مهاله رارسېدلي دي علاقمندي ښيي. دفلکلورونو د زېرمه کولو یاد شوی نړیوال سیستم د فلکلورنو په باره کې ټولو کقدماتي پوښتنو ته ځواب ورکوي او د وخت او ټولنيز چاپيريال له مخې د هغوی د ډلبندۍ او پوښتنو په وړاندې روښان تصورات رامنځ ته کوي او د تیپولوژي د اصولو په اساس د فلکلوري کلياتو خپرېدو ته پراخه شونتيا ورکوي. د مسالې دغه اړخ دا امکان هم رامنځ ته کوي چې د خلکو له لوري هست شوي آثار، د متن پېژندنې له نظره په بشپړه توګه زده او مرتب شي. د همدې کار د سرته رسولو لپاره تر هر څه وړاندې بايده دي چې د هر واحد اثر بېلابېلې نسخې چې ماخذونو کې شته دي را نقل او يو ځای شي او يو اځې د همدې نسخو د محموع په اساس کېدای شي چې د مطرح شوي اثر په باره کې حکم شي. په کلياتو کې هم تش د واحد اثر د راټولو شويو نسخو په باره کې معلومات ورکول کېږي. د اثر په باره کې لومړني معلومات چې تاجيکي فلکلورستان هغه ته «سګناتور» نوم ورکوي، هغو پوښتنو ته ځواب وايي چې پورته يادې شوې.

۱ـ د دغې ډلې غړي لانديني کسان وو: د محقق مرستيال شهزاده زيارن، د سرمحقق مرستيال محمد مؤمن پتوال، د سرمحقق مرستيال محمد اسمعيل سړه بن، د محقق مرستيال مير احمد ګوربز، د محقق مرستيال حضرت محمد وياړ او د محقق مرستيال مجاور احمد مومند

۲ـ د شرق سرخ مجله، دوسنبه، ۱۹۵۷ ښم لومړی ګڼه، ۱۸ مخ.